# د خدائي خدمتګارانو سره یو څو خبرې

موږ د باچاخان او ولي خان په دې خصوصي نمبر کښې د خدائي خدمتګارو سره دغه څو خبرې د دې دپاره چاپ کوو چې اوسني پښتانه دخپل دغه دور د جدوجهد د تاریخ سره اشنائي پیدا کړي او دغسې د فخرِافغان د خبرو سره هم اشنا شي. دا مضمون په مئ ۱۹۳۱ کښې په صفحه ۱۹ په پښتون کښې چاپ شوے دے.

په درناوي چیف ایډیټر



اے زما غیرتمنو ځلمو! اول خو زهٔ ستاسو د هغه زرینو قربانو او قابل تحسین خدمتونو شکریه ادا کوم چې د تېر کال د آزادۍ په جنګ کښې تاسو قسم قسم تکلیفونه او مصیبتونه تېر کړل. او خپل کار مو پرې نه ښووه او تاسو دنیا ته ثابته کړه چې د بهادرانو پښتنو په اولاد کښې اوس هم هغه شجاعت،بهادري او ایثار شته کوم چې د پخوانو دپاره باعث د فخر او د امتیاز ؤ. رښتیا خبره دا ده چې ما او زما اخلاص منو ملګرو چې څه وخت په دې ملک کښې قومي تحریک شروع کولو او ما د ملک عام حالاتو ته اوکتل. نو زما دا امید بالکل نه ؤ چې عام پښتانه به دومره زر قومي خدمت ته تیار شي. او هم د دې دپاره موږ د آزاد سکول بنیاد کېښوده. په دې خیال چې عام پښتانه خو په قومي کارونو کښې حصه نه اخلي. البته که که د آزاد سکول طالبان بچي لوئي شي نو امید دے چې دوي به قومي قربانو ته تیار شي. مګر د الله تعالی فضل ډېر لوئي دے. او هر یو کار چې څوک په اخلاص او صداقت سره شروع کړي نو خدا وند کریم د هغې کسانو سره خپل غیبي امداد کوي. نو الحمدالله چې زموږ په یو معمولي اواز سره د ملک په هره حصه کښې ځلمي رابیدار شو او ډېر زر مېدان د عمل ته راووتل. او حکومت هر څومره چې

ستاسو (خدائي خدمتگارو) د ويـرولو انتظام وکړو. مگر شـابـاش! چې تـاسـو خپل کار جاري اوساتلو. او د حکومت ټول تدبيرونه لکه د نارعنکبوت بې کاره ثابت شو.

افسـوس! چې د جناب په اولو ورځو کښې زه ستـاسـو نـه جـدا شـوم. اومـا پـه خپلو سترگو ستاسو د بهادرۍ کارنامې ونه ليدلې. مگر زه چې پـه جيـل کښې ستـاسـو د حالاتو نه خبرېدم. نو د خـوشـحـالۍ نه به په جامو کښې نه ځائيدم. او په زړۀ کښې بـه مې وې چې يا خدايه! دا هغه پښتانه دي چې د پـوليـس يـو مـعمولي جمعدار بلکې يو سپاهـي بــه پـرې څـومره سر خپې کول. او نن د سـنگينونو توپو گولو مقابلې ته ولاړ دي. ستاسو د استـقلال او صبر به برکت به ما ته په جيل کښې د هـنـدوسـتـان ليډرانـو مبـارکي راکوله. او دا ئې ومـنـلـه چې واقـعي آزادي حاصلول د پښتنو کار دے. زمـا رونړـو! تاسو زما فخر په ټول هندوستان بلکې په ټوله دنيا کښې پيدا کړو. تاسو د پښتون عـزت په تمام جهان کښې خور کړو. تاسو د خپلې بهادرۍ په برکت سره د ملک آزادي رانزدې کړه. او هـم تاسو د غلامۍ په زنځيرونو کښې کمزوري پيـدا کړه. او دا به هم ستاسو خدائي خدمتگارو د شجاعت او د سـرفـروشۍ بـرکت وي. چې عنقريب به زمونږ دا مـلـک د غيــر قـوم د پـنـجې نــه آزاد شي. او هم ستـاسـو د ويـنـو په طاقت په پښتون قوم د آزادو قومونو په صف کښې اودرېدو لائق شي.

اے زمـا خوږو خدائي خدمتگارو! په دې موقعه کښې زۀ ستـاسو د نظام او د اصولو متعلق يو څو خبرې ليـکـم. اميـد دے تاسو به هغه ښه په غور او فکر سره وگورئ. او عمل به پرې وکړئ. اول خو تاسو د خپـل نوم معنی ته خيال وکړئ. تاسو ته خدائي خـدمتگار وئيلے شي. مطلب دا چې تاسو د خدائې خـدمـت تــه مـلا تړلې ده. نـو خدائي خدمتگاري صـرف د جامو سرو کولو ته نه شي وئيلے. بلکې د دې دپـاره پــه ځان کښې د هغه صفتونو پيدا کولو ضـرورت دے چې د يو خدائي خدمتگار دپاره لازم دي. زه تاسو ته هغه صفتونه ښودل غواړم.

(اول) تـاسـو له ضروري دي چې د خپل دمـاغ نــه کبـر،لـوئـي او مـعتبري وباسئ او ټول خـدائـي خـدمتگاران په خپلو کښې داسې مينه او محبت پيدا کړئ لکه څنگه چې د خپلو سکو رونړو پـه مېنځ کښې وي. دا مه وايئ چې دا خوار دے او زه مـالدار يم. دا کسب گر دے او زۀ پښتـون يم. دا بـدرنگ دے او زه ښـائسـتـه يم. نا! ستاسو د ټولو حيثيـت يـو دے. ستـاسـو يـو ملک دے. يو مو مـذهـب دے. يـو مـو قـدم دے. يوه مو ژبـه ده. دا کسب گر او غريبانان ټول زمونږ پښتانه رونړه دي. خـو پـه يوه زمانه کښې د ,,نـمـدني،، ضرورتونو دپـاره دوي بيـل بيـل کسب اختيار کړے دے. دا د بل وطن نه نن نه دي راغلي. بلکې که څوک د بهر نـه راغلي وي نو هم اوس زمونږ سره يو شان د دې ملک حقدار دي. تر دې حده پورې چې زۀ خو د دې مـلـک هـنـدوان هم پښتـانه گڼم. ځکه چې دوي هم مـونږ سره د دې ملک مالکان دي. البته که تاسو د

یـو بـل نـه زیـاتیدے شئ نو په ښو خویونو او ښه عـمـل سـره زیاتیدے شئ. تاسو ښه عمل وکړئ. ښـه خـویـونـه په ځان کښې پېدا کړئ. په خپله به زمـانـه فېصله وکړي چې لوئې کوم دے او وړوکے کـوم دے. تـاسـو پـه خپـلو دعوو ځان ته لوئې مهٔ وایئ.

(دویمه) تاسو ټول خدائي خدمتګار هغه نـاکـاره عـملونه پرېږدئ چې خدائې او رسولؐ پرې ناراضه کېږي. او په خلقو کښې پرې سړے سپک ښـکـاري. دا بـه څومره د شرم خبره وي چې نوم به دې خـدائـي خـدمـتګار وي او ته به مونځ اودس نه کوې. یا به جواري کوې یا به غلا کوې. یا به پردو ښځـو پسې ګرځې. یا به هلکان ساتې. یا به بنګ، چرس څکې. په دې شان د دې قسم ناکاره عملونه نشـي پـرېښـودے. نـو تـاسـو د قـام او ملک هیڅ خدمت نشئ کولے. بلکې مونږ ټولو پښتنو ته به د دښـمـن پېـغـور جـوړ شـي. چې پــه نـوم خـدائي خـدمـتګـاران دي. مګر ټول د شیطان خدمتګاران دي. څوک به وائي دا بدمعاشان،لوچه ګان دي. خو هسې ئې سـرې جــامې اغـوستې دي. نو زمـا پـه خیـال چې څـوک د داسې نـاکـاره عـملونو نه توبه نشي ایستے. او نه اوباسي. نو بهتره به دا وي چې د خدائي خدمتګارئ نه استعفی ورکړي.

(دریـمـه) په تاسو (خدائي خدمتګارو) ډېـر ځـلـمـي پـه عهدو باندې جګړې کوي. او دا د ټـولـو نه زیاته د نقصان خبره ده. د دې نه خو صفا مـعـلـومېږي چې تـاسو دا جامې د دې دپاره سرې کړي دي چې څـه عهـده په لاس درشي. او په نورو بـانـدې حکومت وکړئ. زهٔ د دغې روښو نه پښتنه کـوم چې تـاسو د دې نورو خدائي خدمتګارو نه په کـومـه خبره کښې زیات یئ. دا خو لکه څنګه چې مـا مخکښې عرض کړے دے ستا په شان حیثیت لـري. څـنګـه چې ته قومي خدمت کوې داسې دې نـورو هـم قومي خدمت ته ملا تړلې ده. څنګه چې تـه تـنـخوا نه اخلې. داسې دا نور هم څه تنخوا نه اخـلـي. څنګه چې ته قربانئ ته تیار ئې. داسې دا نور هم قربانئ ته تیار دي. نو بیا ته ولې د نورو نه ځـان بهتر ګڼې. بیشک په هر یو ټولي کښې د یو دوو افسـرانـو ضـرورت وي چې نـظام قائم اوسي. مګـر دا خـواهـش تـاسـو په خپله کوئ. دا اختیار مـرکـز تـه پـرېږدئ. د مـرکز نه چې څوک ستاسو افسـر مقرر شي نو د هغه حکم منئ. ستاسو لوئې قـومـي خدمت دا دے چې د خپل افسر د حکم تابع اوسـئ. اګـر کـه هغه یو ډېر غریب سړے وي ځکه چې تاسو په اصل کښې د دغې افسر حکم نه منئ. بـلـکې تـاسـو به دا د خپل قوم تابعداري کوئ. او څوک چې افسر مقرر شي. هغه دې هم ځان د نورو نـه لـوئې نـه ګڼـي. بلکې دا کوشش دې کوي چې ټول خدائي خدمتګار ترې رضا اوسي. او هیڅا ته د اعتـراض موقعه په لاس ورنشي. البته د کار په مـوقعه کښې دې ښه ضابطه ساتي. مګر په فالتو وخت کښې دې د هغوي ځان خادم ګڼي.

(څـلـورمه) هر یو خدائي خدمتګار دې د مـخـلـوق د خـدائې د قائدې ډېر خیال ساتي. د هر

محتاج،غریب،مسافر او رنځور امداد دې په ځان فرض ګڼي. او ډېر خیال دې ساتي. چې د دهٔ د خولې او لاسونو نه چاته ضرر ونه ورسي. هر چا سره دې خبرې په ډېره خوږه خوله او ادب سره کوي. که په یو جلسه کښې یا په بل قومي خدمت باندې ولاړ وي. نو د عامو خلقو سره دې سوال و جواب ډېر په نرمۍ سره کوي. او د هر سړي د آرام خیال دې ساتي. که هندو وي که سیکهـ وي او که مسلمانان وي.

که یو خان،رئیس په تاسو څه زور ظلم کوي نو هم تاسو خپله غصه ضبط کښې ساتئ. ځک چې زمونږ ټول اصول د صبر او تحمل دي. مونږ چې د حکومت سره مقابله شروع کړې ده. نو هم د صبر او د تحمل په وسله مو شروع کړې ده. او چې د حکومت د معمولي سپاهي وهل،کنځل تېره وو. نو که د یو پښتون رئیس زور ظلم تېر کړو نو څه باک دے.

لنډه خبره دا ده چې که تاسو په رښتوني معنو کښې خدائي خدمتګاران جوړېدل غواړئ نو خپل نفسیاتي خواهشونه ورک کړئ. په خپلو طبیعتونو کښې د صبر او مظلومۍ صفت پېدا کړئ. که خوانخواسته تاسو خپل طبیعتونه په قابو کښې نه شئ ساتلے او د چا حاکم،خان،رئیس، زور او ظلم نشئ زغملے. د عامو خلقو خبرې نشئ تېرولے. نو د خدائې دپاره خپل نومونه د خدائي خدمتګارئ نه وباسئ. مونږ ته د داسې ځلمو هیڅ ضرورت نشته چې کله په عهدو جګړې کوي. کله عامو خلقو ته تکلیفونه رسوي. کله د افسر حکم نه مني. کله داسې یو ناروا کار وکړي چې ټول خدائي خدمتګاران بدنام کړي. مونږ ته لږ ځلمي پکار دي. مګر د اصولو پابند او د حکم تابع. مونږ ته هسې د تشو سرونو هیڅ ضرورت نشته دے.

(پینځم) دا خبره ده چې تاسو ټول خدائي خدمتګاران چې څوک بې تعلیمه یئ نو انتظام وکړئ چې د شپې په وخت کښې لږ لږ تعلیم حاصلوئ. چې رو رو تاسو علمي لیاقت حاصل کړئ. ځکه چې که خدائې وکړي او مونږ کامیاب شو نو چې تاسو د دې لائق یئ چې یو قومي سرکاري خدمت وکړئ او کولے شئ. هسې عبث وخت مه تېروئ.

زهٔ امید لرم کوم چې د هرې جرګې نه دې یو مقرر سړے په دې فرضو مقرر شي چې په هفته کښې یو ځل ټول خدائي خدمتګار راجمع کوي او د دې غرض دپاره دې ور ته یو تقریر کوي چې ټول په خپل وس د خپلو اصولو نه خلاف ورزي ونه کړي. او بل ټول خدائي خدمتګار دې د قومي تحریک په اصل منشاء پویوي چې غلامي څه شے دے او د آزادۍ څه تعریف دے. او مونږ څه حاصلول غواړو. علی هذالقیاس: نورې ټولې ضروري خبرې د هر یو خدائي خدمتګار غوږونو ته رسول پکار دي چې دوي په ښه بد پوئې شي. بس.

عبدالغفار